# A study of khushal khan khatak and Democracy

# خوشحال او جمهوريت يوه مطالعه

**Dr.Qadre Wahed (Samandar Yousafzai)**★

## Abstract

Our world has been through different system of governments in History. One such form of government is Democracy. Hindustan had been under Monarchy while Khushal Khan was born. He remained part of the system for a short period of his life. But when look at his prose and poetry, it on the contrary reveal the story of Democracy. His work is a vivid manifestation of Democratic spirit. This paper will take into account Khushal's vision of democracy and thereby his person struggling for people in power.

**Keywords:** Khushal Khan, Democracy and democratic spirit, power

د انساني ژوند انتظام د ټولنيز شکل نه بغېر ممکن نۀ دے ځکه نو په مختلفو وختونو او مختلفو ځايونو کښې په بېلابېلو صورتونو کښې د دې انتظام په نظر راځي د حکمرانۍ په دغه ډولونو کښې بادشاهت، امريت، خلافت او جمهريت سر فهرست دے. په ننۍ مهذبه دنيا کښې په اکثرو ملکونو کښې جمهوريت قائم دے کوم چې زياتره خلکو ته قابل قبول په دې دے چې تر اوسه پورې د دې نه لا بل ښه نظام په وجود کښې نۀ دے راغلے هر څو که په دې نظام نيوکې کېږي ولې بيا هم د عوامو د خوښې او رائے څه نه څه شکل پکښې موجود وي.

ټولنه د عوامو وي او پکار هم ده چې د عوامو د خوښې عېن مطابق په هغوي حکمراني ووشي ځکه نو په دغه حواله جمهوريت د نوي دور د تقاضو سره سم داسې نظام دے چې تر ډېره

---

★ Lecturer Department of Pashto Malakand University Chakdara

حده نړۍ قبول کړے هم دے هسې خو د جمهوريت بې شمېره تعريفونه شوي خو زه دلته د ابرهيم لنکن په دغه تعريف اکتفا کوؤم چې تر ډېره حده په خپل مقصد کښې کامياب په نظر راځي

“Democracy is the government of the people, for the people and by the people”[1]

ژباړه: د اولس حکومت، د اولس له پاره او د اولس په ذريعه حکومت ته جمهوريت وئيلے شي

"جمهوريت د حکومت يوه بڼه ده چې د وګړو واکې، ولسواکۍ يا د ملت د واکمنۍ په مفهوم ده. حکومت د ملت د واکمنۍ د ځواک استازے دے. ملت د خپلې واکمنۍ حق د ټاکنو له لارې خپلو استازو او د دولت رئيس ته سپاري. چې د ملت له لورې د حکومت چاره تر سره کړي."[2]

. جمهوريت ته په انګرېزۍ کښې ( Democracy ) اصطلاح پکارولې شي کومه چې د يونانۍ ژبې د تورې ډيموکريټيه نه وتې ده

“the term is derived from Greek demokratia which was coined from demos “people” and kratos “rule” in the middle of 5th century BCE to denote the political systems then existing in some Greek city-state notably Athens”[3]

ژباړه: دا اصطلاح د يونانۍ ډيموکريټيه نه اخستې شوې ده چې د ډېمو مطلب خلک او د کريټيو مطلب حکمراني ده د پنځمې پېړۍ قبل مسيح په نيمائۍ کښې د يوناني ښارونو او په خصوصي توګه د ايتهنز ښار سياسي نظام په ګوته کړي.

دا خبره تر ډېر حده سمه ده چې په يونان او د دنيا په ډېرو نورو حصو کښې عوامي حکومتونه قائم وو چې د ګوتم بده د پيدائش وړاندې او سل کاله قبل مسيح په هندوستان کښې هم جمهوري حکومتونه قائم وو چې "جن پد" به ورته وئيل کېدله خو دلته چې زه کومه موضوع مخ په وړاندې بيايم هغه د خوشحال خان خټک په حواله ده.

خوشحال خان خټک چې په کوم وخت او په کومه خاوره ژوند کوؤ تر پېړیو راسې دلته بادشاهت قائم ؤ د واک او اختیار واګې د یو کس په لاسو کښې وې او په مختلفو عهدو او فیصلو کښې به د یو کس مرضي او اختیار شامل ؤ، بله خبره دا هم د اولس په ذهن کښې ده چې ګنې خوشحال خان خټک ټول عمر د تورې او طاقت په زور سیاست کړے دے ځکه نو په هغه باندې د غیر جمهوري سړي ګمان کېږي او دغه ګمان مناسب هم دے ځکه چې شرعه ظاهر ګوري او د هغه وخت زمکني حقیقتونه بل شان وو خو ولې حقیقت تر ډېره حده مختلف دے د خوشحال خان خټک په منظوم او منثور اثارو کښې داسې بېلګې په نظر راځي چې د هغې په بنیاد مونږ خوشحال خان خټک د جمهوریت یو لوئے علمبردار ګڼلے شو. هر څو که د هر دور جمهوري طریقې مختلفې وي او په دغه طریقو بحث هم کېدے شي خو ولې د جمهوري روئې نه پته لګي چې یو فرد یا افراد یا ټولنه څومره جمهوري ده.

لکه څنګه چې وړاندې ذکر وشو چې د خوشحال خان خټک په دور کښې د موجوده وخت په شان عوامي حکومتونه نۀ وو او د عوامو په ځائے به یو سړي بادشاهت کوؤ چې تر ډېره وخته ئې هغه حصه هم پاتي شوے دے او بیا باغي شوے هم دے د خپل وخت د بادشاه خلاف مبارزه ئې هم کړې ولې دغه مبارزه د جمهوریت په اړه نۀ وه بلکې په ذاتي او قومي حواله وه ځکه چې په دغه وخت کښې لکه د موجوه وخت په شان جمهوري مبارزه کول نۀ خو رواج وه او نۀ ممکن وه.

خوشحال خان خټک یو پوهه او زیرک سیاستدان ؤ د خپل دور په مروجه نظام کښې دننه هغه د جمهوري روئې پلوي پاتي شوے دے د هغه د قلم نۀ د یو حکمران په حواله ډېرې قیمتي او د کار خبرې وتې دي چې د عمل او فکر وړ دي. هغه که نورې هم بلها خوبۍ او هنرونه د یو مشر د پاره ضروري ګڼي نوپه مشوره، جرګه او مصلحت هم زور راوړي انسان که ډېرې هم خوبۍ او هنرونه لرې خو بیا هم انسان پوره نۀ وي. بلکې د نورو د مشورې محتاجي لري. ځکه چې د یو ذهن که هر څومره تیز او ښه وي خو ګڼو ذهنونو ته چرته رسي او بیا په تېره تېره خو اولسي او ریاستي امور ارومرو د مشورې او جرګې ضرورت محسوسوي. یو سردار یا مشر باید چې جمهوري وي هغه دي مطلق العنان نۀ وي. بلکې په هره سیاسي او اولسي معامله کښې دې د هوښیارو او مخلصه خلقو سره مشوره او مصلحت خوا مخوا کوي.

د خوشحال خان خټک د دې رائے نه اندازه لګي چې هغه څومره جمهوري رویه او پوهه لرله د یو مشر یا ملک د ذاتي اهلیت لرلو واله او ذاتي اهلیت او قابیلیت نۀ لرلو واله په

حواله په مصلحت کولو او مشورې اخیستلو سره سره د هغه ځائے ذکر هم کوي چرته چې څو هوښیار د مشورې په لړ کښې کښېني۔

"مصلحت د ملوکانو په دوه رنګه دے ۔ یو قائم بالذات، بل قائم بلغېر ۔ قائم بالذات هغه چې په خپل ځان قابل لائق وي ۔ واړه هنرونه، خصلتونه په کښې وي ۔ هغه لره هم مشورت لازم دے ۔" [4]

نوراني کا هغه ځاے چې سره کښېني
دیرینه څلور هوښیار په مشورت[5]

"بل قائم بالغېر هغه، هغه سړے دے ۔ چې هلک وي، لا د قابلیت علم ئې کړے نۀ وي ۔ یا ابله وي ۔ یا عورتینه وي ۔ چې ناقص عقله وي ۔ د سیاست کار نصب شي ۔ په یوه سبب که دا هسې سړے وزیر صاحب تدبیر لري ۔ هم به ئې کار پېش ځي ۔ ځکه ملوکانو لره وزیران لازم شول ۔" [6]

مېکاویلي هم شهزاده/ بادشاه د پاره مشوره ضروري ګڼي او که یو طرف ته د مشورې اورېدو د استقامت تلقین کوي نو بل خوا د بد دیانته مشورې واله حوصله شکني هم کول غواړي

"A prince must, therefore, never lack advice. But he must take it when he want to, not when other want him to, indeed, he must discourage everyone from tendering advice about anything unless it is asked for. All the same, he should be a constant questioner, and he must listen patiently to the truth regarding what he was inquired about, moreover, if he finds that anyone for some reason holds the truth back he must show his wrath".[7]

ژباړه: شهزاده چې کله د مشاورت ته اړتیا ولري نو بذات خود دې د نور چا سره کوي نۀ چې نور ورته د ځانه مشوره ورکوي ۔ د بې تپوسه مشورې واله له دې حوصله شکني کوي او چې کله د چا نه مشوره وپوښتلے شي نو بیا دې د هغه جواب ته په استقامت غوږ ږدي خو چې کله ورته پته ولګي چې رښتیا رښتیا ئې او نۀ وې نو بیا پرې خپله غصه ویستل پکار دي۔

د مصلحت او مشورې د اهمیت، ارزښت او قیمت نه په هیڅ ډول انکار نۀ شي کېدے. خو دا هم ضروري ده چې مشوره د چا سره پکار ده. مشوره که د عقلمندو سره وشي نو نتیجه به ئې ښه راؤځي او که د کم فهمو سره وي نو بیا دغه مشوره د خېر په ځائے د شر مرتکب کېدے هم شي. د بادشاهانو د مصلحت او مشورې د پاره وزیران وي ځکه نو د وزیرانو انتخاب د یو بادشاه د پاره د اهمیت وړ وي.

یـــــا ســــــردار لــــــره خپـــــل عقـــــل
یـــــا وزیـــــــر صـــــــاحب تـــــــدبیر

کـــــه هـــــر څـــــو ئـــــې عقـــــل ډېـــــر وي
بیـــــا هـــــم بویـــــه ښـــــه وزیـــــر
کـــــه دا نـــــه وي نـــــه هغـــــه وي
پـــــه ژونـــــدون ئـــــې بویـــــه ویـــــر[8]

خوشحال خان خټک د خلقو د خبر ښېګړې د پاره د هوښیارو او مخلصو خلکو مشورې لازمې ګڼي او که چرې هوښیار او مخلص خلک نۀ وي،نو بیا هېڅ ضرورت نۀ لري. چې خلق دي جرګه شي[9]. میکاویلې هم د وزیرانو د انتخاب په حواله د خپلو خیالاتو اظهار څه داسې کوي

"The choosing of ministers is a matter of no little importance for a prince and their worth depends on the sagacity of the prince himself. The first opinion that is formed of a ruler's intelligence is based on the quality of the men he has around him. When they are competent and loyal he can always be considered wise, because he has been able to recognize their competence and to keep them loyal".[10]

ژباړه: د یو شهزاده/ بادشاه د پاره د وزیرانو انتخاب کول د اهمیت نه خالي نۀ وي. د هغوئي ښه والے او بد والے د بادشاه په مصلحت اندېشۍ اړه لري. د بادشاه د قابلیت اندازه د هغه د خواؤ شا خلقو نه کېږي. که هغوئي هوښیار او وفادار وي

نو پوهه شه چې بادشاه عقلمند دے ځکه چې د هغوئي خوبۍ ئې پېژندلي دي او وفادار ئې ساتلي دي.

خوشحال خان خټک جمهوريت پسند دے هر هغه کار غوره ګڼي کوم چې په مشوره او مصلحت سره کېږي د مصلحت او مشورې په لړ کښې چې کومه جرګه راغونډېږي په هغې سلام وائي هغه دا هم ګڼي چې څوک هم مشوره کوي هغه به نۀ خرابېږي بلکې د پښتنو دغه متل ته هم اشاره کوي چې کوه خپله خو اوره د بل.

پـــرې مـــې ســـلام دے جرګـــې چـــې پنـــډ شـــي
زړۀ مـــې هـــورے دے هـــورے چـــې هنـــډ شـــي[11]

هـــر چـــې کـــار پـــه مصـــلحت کـــا
هغـــــۀ کلـــــه خوشـــــدل وي
کـــار چـــې کـــا بـــې مصـــلحته
پـــه غمونـــو کښـــې ښـــخ تـــل وي[12]

پنـــد دے ســـود منـــد دے واوره تورزنـــه
اســـانه نـــۀ ده د ســـر ښـــندنه
مصـــلحت مـــه پرېـــږده د خپلـــه لاســـه
هـــم بـــه خپـــل راز لـــرے د زړۀ دننـــه[13]

خوشحال کان خټک په دې خبره هم زور راوړي چې څوک جمهوري رويه نۀ لري او کارونه بغېر د مشورې نه کوي نو د غمونو سره به مخ کېږي بلکې هغه کور به هم د برکت نه خالي وي.

چې پکښې لوے شي بې مصلحته
خونه خالي شي له برکته
تر بدبخت څويه نېکبخته لور ښه ده

فرزند دي نهٔ وي بې سعادته[14]

د خوشحال خان خټک د مشورې نه کولو او غېر جمهورې روئې نقصانات داسې په ګوته کوي.

چې د خپل عقل وئيل کا هغهٔ کله خردمند دے
چې پوښتنه مصلحت کا هغهٔ هم د عقل بند دے
چې مې فهم فکر وکړ په دا خپله دانائۍ کښې
بل نادان راښکاره نهٔ شو که نادان دے خود پسند دے[15]

هر څوک چې کار کا بې مصلحته
هيڅ به ونهٔ خوري بر له دولته
که بخت ئې هر څو کارونه ساز کا
خالي به نه وي له ندامته[16]

چې کار ئې بيائي فلک په کښته
چاري به کاندي بې مصلحته
کجير که څير دے چې بې تدبير دے
په خزه بند شي له دے شامته[17]

خوشحال خان بابا د يو سردار يا مشر دپاره مشوره او مصلحت ضروري ګڼي او ورته د جرګې او مشورې تلقين کوي او په خپله ئې هم ژوند د جرګو او مشورو نه عبارت ؤ، ځکه چې په پښتنې ټولنه کښې جرګه بنيادي حېثيت لري.

"په پښتون کلچر کښې جرګه د جمهوريت ابتدائي شکل دے. جرګه د امن، مينې، احترام او ورورولئ علامت دے. جرګه لانجې، شخړې او تنازعې ختموي. خلق د ورورولئ پليټ فارم ته راغونډوي. انصاف د هر چا درشل ته رسوي."[18]

خوشحال د کائنات بندو بست د خبرو سره تعبيروي او په دغه خبرو اترو او مشوره کښې چې څومره تعداد سيوا کېږي دومره د خېر سبب ګرځي ځکه چې د يو نه د سلو عقل سيوا وي او د سلو نه د زرو عقل سيوا وي۔ دغه شان يوه ښه خبره د زرو بدو خبرو نه غوره ده او د خاصو خلکو خبرې ملغلرې ګڼي۔

"بندوبست د کائنات دے په خبرو
يؤ تر سله صدقه شه سل تر زرو[19]
هر نااهل مزه څۀ زده له خبرو
د خبرو لذت ښۀ دے تر شکرو
چې دانا ئې په دانش سره اشنا کړه
يوه ښۀ خبره بده ده تر زرو
تفاوت د خاص و عامو سره ډېر دے
برابر نۀ دي شبه د مرغلرو"[20]

د پښتنې ټولنې دغه د مشورې مصلحت عمل ته جمهوريت وئيلے شي۔ چې په جديد وخت کښې د حکومت کولو يوه موزونه طريقه بللے شي۔

خوشحال خان خټک د جمهوري روایاتو د افاديت نه خبر دے۔ ځکه هغه د فرد په ځائے اجتماعي عقل له اوليت ورکوي۔[21]

خوشحال خان خټک د ذاتي مسئلو نه واخله تر رياستي مسئلو او لانجو په معامله کښې د مشورې، مصلحت او جمهوريت پلوي دے۔ ځکه چې په مصلحت نۀ کولو سره د اقتدار د تلو او انتظام ورانېدو په هر وخت کښې قوي امکان وي او په مصلحت کولو سره وران کارونه هم سمېږي۔

چې نه طالع لري نه مصلحت لري
دولت به بائيلي که ډېر دولت لري
چې شکر نه لري کله نعمت لري
چې صبر نه لري کله حکمت لري[22]

چې نه طالع لري نه مصلحت لري
دولت غواړي چې بدخصلت لري[23]

په هر کار کښې مصلحت شته
خپل پردي ته نصيحت شته
چې لر بر له مصلحت شي
کله خېر برکت شته[24]

چې فائده لره بې شماره
هغه څه دے مصلحت دے[25]

که د تورې کار د ځوان دے يا د نور څۀ
مصلحت دے د هغه چې په ذاله شي[26]

هر سړے په خپل کنګاش پوهېږي ښه
په خپل زيست او په معاش پوهېږي ښه[27]

ولې هسې نۀ وي چې وېښته چوي په عقل
بيا چې درې څلور مصلحت وکاندي ښۀ چر شي[28]

دغه او دغسې نور ډېر شواهد شته چې د خوشحال خان خټک د جمهوريت پسندۍ جمهوري روئې د مصلحت پسندۍ اندازه ترې ډېره په ښه توګه کېږي د کور نه واخله د رياست ترحده د مشورې او جمهوري روئې پلوي دے هغه نۀ يوائې دا چې مشورې په اهميت ضرورت زور ورکوي چې بلکې ضمانت هم ورکوي چې څوک مصلحت او مشوره کوي د هغه کارونه به نۀ ابتر کېږي۔ په دې خبره خو ئې بله نه خېژي چې د څلورو د مشورې قضا کېده د مونځ د قضا کېدو نه زياته ګرانه ده

که سړے په مصلحت کښې لر بر نشي
زه ضامن چې د دۀ کار به ابتر نۀ شي[29]

د نمانځـه تـر قضـا ګرانـه دا قضـا ده
چـې قضـا شـي د څلـورو مصـلحت[30]

په جدید وخت کښې هم هغه ملکونه او رياستونه کامياب او خوشحال دي، چرته چې فيصلې په مشوره او مصلحت سره کېږي. اګر چې طاقت او اختيار هم د يو سړي په لاسو کښې وي. خو بيا هم هغه د پارليمان سره په هر کارکښې مشوره او مصلحت کوي. حکومتي او رياستي پاليسۍ هم د پارليمان په مشورو او جمهوري عمل سره جوړېږي.

# References

1. Muhammad Sarwar, Prof . Dr . Introduction to Political Science, Ilmi Kitab Khana, Urdu Bazar Lahore, 2007, Page No . 148
2. Dairatul marof 4th edition, Da afghanistan da islami jamhoriyat da ulomo aceadmai da dairatul marof riyasat, 2011,page,115.
3.https://www.britannica.com/topic/democracy Dated01/10/2020 PST 1:15 PM.
4. Khatak, khushal khan,dastar nama tahqiq,samawana aw hashi, prof yar Muhammad maghmom khattak, university book agency Khyber bazar pekhawar,2005,page no 48.
5. khatak, khushal khan,kulyat,martaba dost Muhammad khan kamil momand,idara ishaat sarhad pikhawar,2nd edition, 1960,page 512.
6. Khatak, khushal khan,dastar nama tahqiq,samawana aw hashi, prof yar Muhammad maghmom khattak, page no: 149,149.
7. Niccolo, Machiavelli, Translated by George Bull, Penguin, 1996, St Martin's Press New Yark,1997, Page No 75.
8. · khatak, khushal khan,kulyat,martaba dost Muhammad khan kamil momand, page no 660.
9. khan, abdusamad,mir, talimat khushal, nashir khud, Peshawar, 1987, page:337.
10. Niccolo, Machiavelli, Translated by George Bull,, Page No 75.
11. khatak, khushal khan,kulyat,martaba dost Muhammad khan kamil momand, page no:739.
12. khatak, khushal khan,kulyat,martaba dost Muhammad khan kamil momand, page no· 875.
13. khatak, khushal khan,kulyat,martaba dost Muhammad khan kamil momand, page no .692.
14. khatak,khushal khan,kulyat,martaba dost Muhammad khan kamil momand, page no.646.
15. khatak,khushal khan,kulyat,martaba dost Muhammad khan kamil momand, page no.375.
16. khatak,khushal khan,kulyat,martaba dost Muhammad khan kamil momand, page no.648.
17. khatak,khushal khan,kulyat,martaba dost Muhammad khan kamil momand, page no.648.
18. M iqbal naseem,Prof,Dr,Da tand bahand takhul shair, Pashto acedmy,kwita 2014,page no:485.
19. khatak,khushal khan,kulyat,martaba dost Muhammad khan kamil momand, page no.238.
20. khatak,khushal khan,kulyat,martaba dost Muhammad khan kamil momand, page no.249.
21. khan, shahjehan,khushal khan khatak babai Pashto shairi,Pashto acedmy peshawer university,1985,pagr no 123
22. khatak, khushal khan,kulyat,martaba dost Muhammad khan kamil momand, page no .746
23. khatak,khushal khan,kulyat,martaba dost Muhammad khan kamil momand, page no.749
24. khatak,khushal khan,kulyat,martaba dost Muhammad khan kamil momand, page no.257
25. khatak,khushal khan,kulyat,martaba dost Muhammad khan kamil momand, page no.487
26: khatak,khushal khan,kulyat,martaba dost Muhammad khan kamil momand, page no.368
27. khatak,khushal khan,kulyat,martaba dost Muhammad khan kamil momand, page no.318
28. khatak,khushal khan,kulyat,martaba dost Muhammad khan kamil momand, page no.429
29 khatak,khushal khan,kulyat,martaba dost Muhammad khan kamil momand, page no.454
30. khatak,khushal khan,kulyat,martaba dost Muhammad khan kamil momand, page no.511
.